مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی

۲۰۲۱/۰۱/۰۳

# غزل

د ثواب په نیت له مونږه ګناه وشوې
د توبې په نوم بې شمېره خطا وشوې

د پردو په خوله یې خپل وطن ویجاړ کړ
په دې خړ وطن مې ډېرې جفا وشوې

ویښول مې پښتانه له درانه خوبه
نه ویښېږي دوی ته خنکه ښېرا وشوې

راښکېل شوي دي په دام کښې د ډالرو
د هوښیارو په مغزو هم سودا وشوې

چې لاسو کښې یې جنډې د خپلواکۍ وې
پسرلیه! د وطن نه پرې غلا وشوې

مصطفی پسرلی
03/01/2021



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ